# پر ما يو آيت نازل شوى چې له ټولې دنيا راته غوره او خوښ دى

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: کله چې له حديبيې څخه د راګرځېدو پر مهال په رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت نازل شو: {إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ} تر {فَوْزًا عَظِيمًا} پورې [الفتح سورت: له ١ څخه تر ٥ پورې آيتونه] صحابه کرام ډېر خفه او غمجن ول، حال دا چې خپلې قربانۍ يې په حديبيه کې ذبح کړې وې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «پر ما يو آيت نازل شوى چې له ټولې دنيا راته غوره او خوښ دى».
[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې کله په رسول الله صل الله صلى الله عليه وسلم د الله تعالى دا قول نازل شو: {إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا (١) لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا (٢) وَيَنْصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا (٣) هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (٤) لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَكَانَ ذَلِكَ عِنْدَ اللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا} [الفتح: ١-٥]، (ببشکه تاته مو برى درکړ، يو ښکاره برى (١) تر څو الله ستا مخکنۍ او وروستۍ ګناه (ټوله) درته وبښي او خپل نعمت درباندې بشپړ کړي او سيده لار درته وښيي (٢) او مرسته وکړي الله ستاسره مرسته د عزت والا (٣) خاص الله تعالى همغه ذات دى چې راليږلې يې ده تسلي (يقين) په زړونو د مؤمنانو کې د دې لپاره چې زيات شي ايمان، سره د ايمانه د دوى، او خاص الله تعالى لره دي لښکرې د آسمانونو او ځمکې او الله تعالى ډېر پوه او حکمت والا دى (۴)د دې لپاره چې مؤمنان او مؤمنانې داسې جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندې يې ويالې بهيږي، تلپاتې به وي په هغو کې او ګناهونه به ترې ورژوي او د الله په وړاندې دغه يو ستر برى دى (۵). دا آيتونه له حديبيې څخه د راګرځيدو پر مهال په داسې حال کې نازل شول چې صحابه کرام خفه او غمجن وو، ځکه چې د سولې له امله دوى ونه کړاى شول عمره ادا کړي او پدې ګمان وو چې دا کار د مسلمانانو په ګټه نه دى، او همدا رنګه يې خپلې قربانۍ په حديبيه کې حلالې کړې وې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا چې پر ما يو آيت نازل شو چې هغه ما ته له دې دنيا او څه چې پکې دي غوره دى او بيا يې ولوست.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65787